AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۳/۲۷

# نوی‌تعلیمي کال او د نجونو د تړلو ښوونځیو ستونزه

**زه د پوښتونکي په حیث په عاجزانه ډول له طالب مقاماتو نه هیله کوم چې د نجونو د تړلو ښوونځیو دروازې پرانیزي.**

(آصف بهاند)



په ۲۰۲۱ ام میلادي کال کې، د افغانستان د سیاست او واک دایرې ته د طالبانو له بیا راتګ سره سم؛ ترشپږم ټولګي پورته ښوونځی ته د نجونو پرتګ باندې بندیز ولګید. دا بندیز د ګڼو پلمو، غیرموجه‌دلایلو، رنګارنګ درواغو په وجه تر نن پورې وغځید.

د نجونو د ښوونځیو بندولو د ستونزې په وجه، د افغانستان خلک په دوو ډلو وویشل شول:

ــ د ښوونځیو د بندولو عاملین او پلویان یې،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ د بندو ښوونځیو د بېرته خلاصولو مبارزین او پلویان یي.

په افغانستان کې د نجونو د ټرل شوو ټولګیو او د دې ټولګیو د بیرته خلاصولو ستونزه اوس د یوه ناسور زخم بڼه خپله کړې ده. ښوونځی ته د نجونو د تګ مخالفین په ښکاره وایي چې فر «امرثاني؟» پورې بند دي او په ټېنه وايي چې په خدای که یې د دروازې د خلاصولو غِنګ لا وواورئ. د بېرته خلاصولو مبارزین او پلویان یې بیا وايي چې موږ به خپلې هلېځلې جاري ساتو.

د نجونو د ټولګیو د بندېدو او بېرته خلاصولو د «نه» او «هو» مبارزه دا څوکاله روانه ده او د ځانګړو مناسبتونو او په تېره د نوي تعلمي کال په ورځو شپو کې دا مبارزه توندېږي، څو ورځې روانه وي، بیا سستېږي: خو مثبته پایله یې محسوسه نه ده.

له اشخاصو نیولې، تر فرهنګي ټولنو، ملي ـ سیمه‌ایزو او نړیوالو پتو پورې؛ ټول په یوه خوله غواړي چې په افغانستان کې دې د نجونو تړلې ښوونځې بېرته پیل او پوهنتونو ته د ښځینه محصلینو تګ ازاد شي؛ خو تراوسه پورې چا د هوکړې غږ نه دی اورېدلی.

د نجونو د تعلیم د مخنیوي دومره اورېدل، لنډمهاله او اوږد مهاله منفي پایلې لري چې د دې منفي پایلو تاوان به هم په لومړي ګام کې عام ولس ته رسېږي. قلموالو او چیزفهمه خلکو په لسګونه مقالې، رسالې او کتابونه خپاره کړل او هریوه په خپل وارسره په مستند ډول دا وښوده چې د افغانستان د نیمايي نفوس پرمخ د ښوونځیو د دروازو تړل به ډېرناوړه عواقب ولري، خو نه چا واورېدل، نه چا کوم د قناعت وړ دلیل وړاندې کړ او هرځلې یې د «امرثاني» خبره وکړه. خلک نه پوهېږي چې دا امرثاني څه وخت او څوک صادروي چې د خلکو د اولادونو پر مخ د پوهې او رڼایي دروازې پرانستل شي.

دلته لیدل کېږي چې حکومت د ولس خبره نه‌مني، ځکه یې ترمنځ د متقابل درناوي او باور مسأله د ابهام او شک په حاله کې داسې خړه ده چې د پاکېدو تمه یې هم نه‌کېږي.

د ملګرو ملتونو ځانګړو اړوندو ادارو، په افغانستان کې د نجونو د ښوونځیو د تړلو دروازو د خلاصېدو له پاره وخت ناوخت خپل غږ اوچت کړی دی. په دې ورستیو ورځو کې د افغان سیاسي او فرهنګي شخصیتونو تر څنګ نړیوالو سازمانونو هم د پیامونو په خپرولو سره دې ستونزې اشارې کړې دي. د یوه [پیام](https://) په ترڅ کې ویل شوي دي چې:

«نړیوال سازمانونه پرله‌پسې خبرداری ورکوي چې د نجونو له زده کړو محرومول نه یوازې د هغوی پر شخصي راتلونکي اغېز کوي، بلکې پر ټول افغانستان پراخ ټولنیز او اقتصادي منفي اغېزې هم لري.»

دغه راز «د نجونو د زدکړو ملي کمپاین» د یوه ځانګړي [پیام](https://) په ترڅ کې داسې ویلي دي:

«د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د پنځم تعلیمي کال په رارسېدو سره، زموږ د ټولنې پر ګډ وجدان یو زوږ او ژور ټپ بیا تازه کېږي؛ هغه ټپ چې نوم یې د نجونو پر مخ تړلي ښوونځي دي. له بده مرغه په میلیونونو افغان نجونې لا هم له خپل مشروع، انساني او اسلامي حق څخه بې‌برخې دي. دا محرومیت نه یوازې د نجونو راتلونکې تیارو ته سپاري، بلکې د هېواد ملي ګټې، ټولنیز ثبات، نړیوال حیثیت او سیاسي راتلونکې له جدي خطر سره مخامخوي.»

له شخصي ادرسونو نه هم د نجونو د ښوونځیو د دروازو خلاصولو غږ اوچت شوی دی. کاندید اکادمیسین اعظم سیستاني د «طالبان، دروازه های کار و تحصیل را بروی زنان بازکنید!» ترسرلیک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لاندې طالبان مخاطب کړي دي او له هغو نه يې په ټينګار سره غوښتنه کړې ده چې نور دې د نجونو د تعليم مخنيوی نه‌کوي. د استاد سيستاني د ليکنې په يوه برخه کې [داسې](#) راغلي دي:

«بستن دروازه های مکاتب و پوهنتونها بروی دختران وممنوعيت کار زنان هيچ افتخاری برای امارت طالبان به شمار نمی رود، بلکه برعکس نمايانگر تحجرذهنی شما و بيانگر تبعيض جنسيتی شما نسبت به نيمی از پيکر جامعه است، عملی که درهيچ کشوراسلامی د يگری رايج نيست، بجز در افغانستان تحت تسلط طالبان.»

د نجونو د ښوونځيو تړلو پايلې به ډېرې ناوړې وي او اوس هم په افغانستان کې د ننه او د باندې محسوسې دي. پياوړی او ډېر فعال فرهنګي احمد ولي اڅکزی د دې منفي پايلو يوه [بېلګه](#) ليکلې ده چې زه يې دلته کټ‌مټ رااخلم:

«يوه ترخه خاطره:

احمدولي اڅکزی

«نارينه ډاکټر مې دې نه ګوري؟»

يوې آلمانۍ ښځينه ډاکټرې راته وويل:

«خوارلس کلنه افغانه نجلۍ د طبي معاينې لپاره روغتون ته راوستله شوه. د معاينې په خونه کې زما سره د ساز د دورې يو نارينه همکار هم موجود و. نجلۍ ماته وويل چې نارينه همکار وباسم او بيا دا معاينه کړم. ما همداسې وکړل.»

په افغانستان کې ناروغي مېندې، خوېندې او لوڼې اوس څه کوي؟ لس کاله وروسته به يې څه حال وي چې د روغتيايي سيکتور زرو ښځينه کارکوونکو هم کارونه پرې اېښي وي يا مهاجرې شوي وي او د نجونو د زدکړو د بنديز له کبله نوې نجونې هم نه وي فارغه شوې؟

ګرانو افغانانو، ايا ستاسو زنانه نه ناروغېږي؟ ايا ستاسو يوه څوارلس کلنه لور په خپل هيواد کې يا په ګاونډي هيوادونو کې ويلاړ شي:

«نارينه ډاکټر مې دې نه ګوري؟»

ما پخوا هم ليکلي او اوس هم په دې عقيده يم:

په افغانستان کې نوی نسل له تعليم نه منع کول، په ځانګړي ډول نجونو ته د ښوونځيو او د پوهنتونونو ښځينه محصلينو ته د زدکړو د دروازو تړل؛ هر څوک په هر نامه چې کوي، له انسانيت سره ــ له افغان او افغانستان سره او د افغانستان له نوي نسل سره لويه جفا ده.

د وطن اولاد له تيارو نه ايستل په کار دي، نه تيارو کې ساتل او هغه څوک چې د وطن د نوي نسل پرمخ د ښوونځيو دروازې تړي، دا نه وطن له ستونزو خلاصوي او نه له خلکو سره مرسته کوي، بلکې برعکس دا له خلکو سره او په تېره له نوي نسل سره د خيانت تربريد پورې جفا ده، هېڅ چا سره نه ښايي چې د دې جفا عاملين اوسي او د تاريخ مختوروالی ځانته وګټي.

په هرصورت، زه په دې باور يم چې تعليم د ټولو حق دی او زه به د افغانستان د نجونو د تعليم حق د ترلاسه کولو له پاره خپله مبارزه جاری ساتم، دا مې ويلي او بيا يې هم وايم:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

**زه د يوښوونکي په حيث په عاجزانه ډول له طالب مقاماتو نه هيله کوم چې د نجونو د ټرلو ښوونځيو دروازې پرانيزي.**

موږ ټول به د نجونو د ښوونځيو د پرانستو او نوي نسل د علميروزلو لهپاره خپلي هلېځلې جاري وساتو.

د بشري حقونو د نړيوالي اعلاميې د شپږوېشتمې مادې په لومړي بند کې راغلي دي:

«هر انسان د ښووني او روزني حق لري، ښوونه او روزنه، په تېره بيا لومړنۍ او بنسټيزې زدکړې بايد وړيا او اجباري وي، د ځانګيزې (حرفوي) ښووني شونتياوې (امکانات) بايد د ټولو پر مخ پرانستې وي، د پوهنتونونو او نورو لوړو زدکړو مؤسسو ور بايد د هر چا پرمخ پرانستی وي، چې د خپل استعداد او وس په اندازه له هغو څخه ګټه واخيستلی شي.»

پای

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ